

Moog Educational Institute
موږ علمي بنسټ

# د خوست تڼیو ولسوالۍ ته لنډه کتنه

تور غرونه يې لکه تور ديوان له کبره داسې دنګ ولاړدي، چې ان له آسمان سره خبرې کوي، په دې دنګو غرونو سپوږمۍ لکه پېغله نجلۍ چې غبرګ منګي يې پر سر ساه نيولې مخ پر بره ورو روانه وي.

لمر لکه شوخ د واده زلمی چې پټ پټ راشي او له خپلې ناوې زرين شال ليرې کړي او د ناوې سپين مخ سپينې شغلې وکړي .

سهار وختي د لمرزرينې وړانګې د ختېنو کورونو شيشې په ماشومانه لاسونو وټکوي، خو مازديګر ناوخته لکه په ملا کړوپ مزدور ورو ورو له غرونو شاته د شپې په تور څادر کې پټ شي.

تاسې پوهېږئ! چې ددې تورو غرونو پر سرونو يو وخت چېرې ، ښوون ، او نښتر داسې په کبر ولاړ وي لکه د يوه هېواد سرحدي سرتيري!

خو له بده بخته چې دا سرتيري(ونې) تېرو څلويښت کلنو جنګونو او ددې غرونو دنګو ونو سيوري ته دمه کېدونکو انسانانو له خوا ډېر په رحمۍ سره داسې ووهل شول ،چې تا به ويل د دښمن غرونه يې دي.

د تڼيو يوه غرنۍ سيمه



دا دنګ غرونه د بل ځای او د بل چا نه وي دا د خوست ولايت د تنيو ولسوالۍ غرونه او ځنګلونه وي، له بده بخته چې اوس يې ډېره کمه برخه د شنو ځنګلونو په څادر پټه ده.

**تڼي** يا د تنيو ولسوالي د خوست ولايت په جنوبي برخه کې پرته ولسوالي ده ، چې لوېديځ ته يې د سپېرې ولسوالي ، شمال ته اسمعيل خېلو مندوزيو ولسوالي ، ختيځ ته يې د ګربزو ولسوالي او د جنوب خوا ته يې د وزيرستان ممدخېلو او وزيرو سيمه پرته ده.

د (۲۰۰٦) م کال د احصايې او نفوس شمارنې له مخې يې د وګړو شمېر (۵۲۸۰۰) ثبت شوېده.

**تڼي ابن شيتک نسب نامه**

**اريوزى مرى زى سپنکى**

**مچي خېل سپټ خېل ګويدا خېل جنګي خېل عيسى خېل نعمتى شبوخېل مينه خېل نعمتى مرى زى**

**مرى زى :**

**خيبي خېل اتمانزى خبرزى درى نامى**

**خيبي خېل:**

**بنده خېل دخي**

**درى نامى:**

**اتى خېل تورى خېل ايدخېل**

**اتي خېل:**

**حصارک موسى خېل سپيرکي**

**توري خېل یا**
**تېرخېل:**

**چېچکی گړی لجی خېل د گل کهول**

**ایدخېل:**

**شاوزی خېل پایک خېل کولی لنډی**

**بنده خېل:**

**ولک خېل ډبر میران زرک**

**دخي:**

**بریم خېل ارگندخېل کامل خېل روشان خېل**

**(حیاتې افغاني پاڼې نمبر ۴۳۴)**

**حصارک :**

**انډي خېل پخی چیری**

اندړی خېل

سترانډي خېل        سپائی

شهداد خېل    لاجمرخېل

سپائی

شاه جهان ګنډه        د جلبتي ګنډه

پخی:        اوشه خېل    بکرخېل    خوجي خېل

بکرخېل:

خوجخېل يې: ترين خېل ، رشيدخېل او براهيم خېل

(حيات افغان پاڼه ۴۳۴)


Www.sikaraam.com

**د تڼیو ولسوالۍ کلي:**

۱: دره ګی ۲ نرېزې، کوزکلی،پاس کلی، وربیا،حیصبری۳ سنګړی۴سینکی شبوخېل، عسی خېل ، سره ، اطمان ۵ ورژله ٦ کوچان۷ سپېرکی ۸ فقیران ۹ لنډي ۱۰مچي خېل ۱۱ سورکوټ ۱۲ غلام خېل ۱۳ بنده خېل ۱۴ ورغړ۱۵ تېرخېل ۱٦ اتمنزیو قفران۱۷ متک۱۸ روښانه۱۹ نړخېل۲۰ لغوړی۲۱ حصارک۲۲ ولي میرخان کلی۲۳ پیربادشاه کلی۲۴ ګربز صحره ، ډاب کلی مدرسه ، سیګی او...

د دې ولسوالي زیات خلک د دهقانۍ په کارونو او زیات ځوانان یې د وطن له غېږې نه په بل وطن کې د خپلو کورنیو د حلال رزق په لټون شپې او ورځې سبا کوي.

د تڼیو نریزې کلي د اوبو ویش :

| د ابو ویش | شماره | ورځې | شپې | ورځې | د اوبو ویش | شماره |
| --- | --- | --- | --- | --- | --- | --- |
| منډې شېرشو | ۱۰ | | | | منګري | ۱ |
| وج راحیمی | ۱۱ | | | | درویش راحیمي | ۲ |
| خوارم | ۱۲ | | | | زېربدستي | ۳ |
| څېټ خېل ستر وار | ۱۳ | | | | څېټ خېل نیماکی | ۴ |
| د جنګي خېلو اوله شپه | ۱۴ | | | | د جنګي خېلو اوله شپه | ۵ |
| د جنګي خېلو دوهمه شپه | ۱۵ | | | | د جنګي خېلو دوهمه شپه | ٦ |
| خورځین | ۱٦ | | | | یدرخېل | ۷ |
| د ګیدوخیلو نیماکی | ۱۷ | | | | غبرګ وار | ۸ |
| شیخي | ۱۸ | | | | شیخي | ۹ |

په پورته ډول د نریزې د کلي په اوبو باندې دوه پچې اچول کیږي

۱:پت خیل ۲: څېټ خیل (سبټ خېل)

د اوبو پورته ویش چې د جدول مطابق لیکل شویدی ، دغه هر وار یا پچه چې د یو مشهور اوبوري له خوا د شپې او ورځې د وخت مطابق په لاندې ډول ویشل کیږي :




د ابو د ویش او هغه لرګینه لښته ( نښه ) چې اوبه ورباندې معلومیږي.

## کښکی، مړی، میری او پېخری.

۱:یو کښکی اوبه چې د یوې شپې او ورځې  د اوږدوالي د ساعت په حساب تقریباَ څلور ساعته کیږي خو کله کله یې وخت له دې زیات او کم کېدلی هم شي.

۲: مړی : یوه مړی اوبه تقریباَ دوه ساعته کیږي ، خو کله کله دا هم د شپې او ورځې سره زیاتیږي او کمیږي.

۳: میری : یو میری د شپې او ورځې په مطابق یو ساعت کیږي.

۴: پېخری: یو پېخری تقریباَ نیم ساعت کیږي.

یادونه : یو کښکی دوې مړی کیږي.

یوه مړی دوه میریه کیږي او یو میری دوه پېخریه کیږي.

**د تڼیو ولسوالۍ مشهورې علمي ستې:**

**شاعر او لیکوال پیر محمد کاروان :**

پیر محمد کاروان د نور محمد زوی د خوست ولایت، تڼیو ولسوالۍ اړوند د نریزې پهٔ کلي کې پهٔ(۱۳۳۸) هـ ش کال کې زېږېدلی دی لومړنی او منځنی زده کړې یې د تڼیو ولسوالۍ اړوند د نریزې کلي تر شنهٔ چنار لاندې سرته رسولې دي. لهٔ اووم ټولګي څخه تر لسم ټولګي پورې یې د خوست پهٔ غربښت او تر لسم وروسته یې د خوست لهٔ مېخانیکي لیسې څخه پهٔ(۱۳۵٦) هـ ش کال کې د فراغت سند تر لاسه او دعوت پوهنتون شرعیاتو پوهنځي څخه پهٔ (۱۳۹۳) هـ ش کال کې فراغت سند اخیستی.

کاروان د پښتو، فارسي تر څنګ پهٔ اردو او انګرېزي ژبو هم تر یوې اندازې خپل مشکل حل کولی شي.

د کاروان چاپ اثار

چاپي اثار

۱ـ لهٔ ماښامه تر ماښامه، د شعرونو مجموعه

۲ـ لهٔ نرګسه تر نرګسه، د لنډو کیسو ټولګه

۳ـ چنار خبرې کوي، د شعرونو ټولګه

۴ـ د ښاپېرۍ ورغوی، شعري ټولګه

۵ـ غرهٔ ته روان سړی، لنډې کیسې

٦ـ کاروان خبرې کوي، پر شعرونو کرکتنه، هنري نثرونه او شاعرانه خاطرات دي، چې ښاغلي باز محمد عابد صېب راټول کړې دي.

۷ـ یو زرغون د نغمو سیند، دا کتاب د کاروان صېب د درې واړو لومړنیو شعري ټولګو ګډه مجموعه ده.

۸ـ زر زري وزرې، د شعرونو ټولګه

۹- نغمه زېږدې زمانې شعري ټولګه

ناچاپ اثار

۱ـ مورې مورې تږی یم، مور ته شعرونه

۲ـ یو شمېر لنډې کیسې، چې لا یې نوم ورته نهٔ دی اېښی

۳ـ راډیویي او تلویزیوني ډرامې

۴ـ هنري خاطرې، واړهٔ نثرونه او پر شعرونو کره کتنه

۵ـ یوه اونۍ د هنرونو پهٔ وطن کې، د هند سفرنامه ده، چې څهٔ برخه یې لهٔ خوست نه خپرېدونکې پیوستون مجله کې خپره شوې هم ده.

**شاعر او لیکوال نواب امیرزی :**

نواب امیرزی د نظر خان زوی په ۱۳۴۰ کال کې دخوست ولایت د تڼیو والسولي سینکیو په کوټکیو کې زیږیدلی په ۱۳۴٦ کال د دره ګي ښونځي کې داخل او په ۱۳۵۴ کال کې د ښو نمرو د اخیستلو په اساس کابل ته د رحمن بابا لیسې ته ولیږل شو.

په ۱۳۵۵ کال نه بیا تر ۱۳۵۷ کال پورې یې په رحمن بابا لیسه کې درس ویلـــو. وروسته ۱۳۵۸ کال کې دکانکور په ازموینه کې د کابل د زراعت پوهنځی ته بریالی شو. په ۱۳۵۸ کال کې د لمړي سمستر وروسته دپیلوماسۍ په څانګه کې پخواني شوروي اتحاد ته ولیږل شو خو د غوږ د خرابوالي له امله په خپله خوښه د اقتصاد په رشته کې یې د ماسټرۍ پورې زده کړې په ۱۹۸۴ کال کې د اوګراین لمړۍ کیف او بیا دا ادیسه په ښار کې سرته ورسولې.

۲۳ کتابونه یې لیکلي دي..

شپږ کتابونه یې چاپ دي.

درې ۳ شعري ټولګې او درې (۳) نور چاپ شوې ټولګې یې نثري آثار دي.

شعري ټولګې:

کابل بیا ژاړي

د سفر یادونه

له کابله تر کابله.

نثري اثار:

د دوبۍ سفر نامه

د پاریس سفر نامه

غوره ویناوی زما تعبیرونه

او اولس (۱۷) نور له چاپه پاتې دي چې درې شعري ټولګې دي او نور مختلف عنوانونه دي.

**پوهنمل مجیب الرحمن کریمي:**

پوهنمل مجیب الرحمن کریمي د دین کریم زوی په ۱۳۵٦ په تڼیو ولسوالۍ کې زیږدلی.

علمي رتبه : پوهنمل ژبه: مورنۍ ژبه پښتو او په دري او انګلیسي روانې خبرې کوي.

زده کړې:

۱ .بکلوریا: غرغښت عالي لېسه خوست

۲ .لیسانس : کرنې پوهنځی – کابل پوهنتون (۲۰۰۱(

۳ .ماسټري:د کلیو پراختیا او سیمه ایز پلان جوړونې په برخه کې – د AIT تایلنډ نړیوال پوهنتون ( ۲۰۱۴ (

ددې ترڅنګ په بیلابېلو لنډ مهالو زده کړو کې ګډون کړی.

-د ټولنې پراختیایی شوراګانو قانون او انتقال کړنلاره
-ولایتي ناورین مدیریت او پلان جوړونه
-د پروژو پراختیا او پلان جوړونه
-د ټولنې تحرک
-مسلکي اداره او مدیریت
-د تدارکاتو مدیریت او راپور لیکنه

**ډیپلوم انجینر جنت سبحان تڼی**

د ملک سرکي خان تڼي زوی په قوم تڼی په ۱۳۴۳ کال د تنیو په للمۍ کوټکي سیمه کې زیږیدلی دی.

**پوهنمل استاد یحیا همای:** د بادشاه خان زوی، په ۱۳۵۹ ل کال د خوست ولایت د تنیو د داخیو په کلي کې نړۍ ته سترګې پرانستې دي. لومړنۍ او منځنۍ زده کړې یې د خوست د نادرشاه کوټ په عالي لیسه او وروسته د خوست د الفتح مرکزي لیسې څخه فارغ شوی دی. نوموړي د همدې کال د کانکور په ازموینې کې په ګډون سره، خپل لومړني انتخاب د کابل پوهنتون د ژبو او ادبیاتو پوهنځي پښتو څانګې ته بریالی او په نوموړې څانګه کې یې په لومړۍ درجه د لیسانس او ماسترۍ په کچه زده کړې وکړې. له لیسانس وروسته د مشرانو استادانو په بیا بیا غوښتنې او همکارۍ په نوموړي پوهنځي کې د علمي کدري غړي په توګه و منل شو او تر دې مهاله په یاد پوهنځي کې د استاد په توګه دنده پر مخ وړي.

۱ -اورنۍ تنده (شعري ټولګه)
۲ -د خوشال د شعر فکر او هنر(ادبي څېړنیز اثر)
۳ -پرتلیزه- تاریخي ژبپوهنه ( د پښتو څانګې محصلینو لپاره درسي کتاب)
۴ -پښتو لنډکۍ پښویه (د ناپښتو څانګو محصلینو لپاره درسي کتاب)
۵ -د ژبو نړېوالې کورنۍ: پېژاند، وېش، پرتلیزې او رغښتي ځانګړنې ( د پښتو څانګې محصلینو لپاره درسي کتاب)
٦ -د اریک ژبې او توکمونه ( ژبنی څېړنیز اثر)
۷ -د هندو اروپایي ژبو جوړښتي ځانګړنې (ژبنی څېړنیز اثر)
۸ـ د نړۍ ژبو ته کتنه (له انګلیسي ژبې څخه ژباړه)

**پوهندوی ډاکټر ولي ګل مخلص :**

پوهندوی ډاکتر ولي ګل مخلص په ۱۳۵۳ هجري شمسي کال د خوست ولایت اړوند د تڼیو ولسوالي د حصارک په کلي کې زیږیدلی دی .

**ډکټر محب الله زغم :**

محب الله زغم د ۱۳۵۱ د سلواغې پر ۱۴ مه په کابل کې زېږېدلی دی. پلار یې میرصاحب خېل د خوست د تڼیو د دورملکې او مور یې بي‌بي صالحه د کابل له چهلستونه ده. دی د طب ډاکټر دی خو ادبیات یې شوق دی. په ۱۳۸۵ کې یې لیکلو ته مخه کړه. لومړی یې لنډې کیسې لیکلې، بیا یې ناولونه او مقالې ولیکلې، وروسته یې د ماشوم ادبیاتو ته کار پیل کړ .

د ده باور دی چې ادبیات ټولنه سم لوري ته سیخولی شي او د خلکو د ذهن په رغولو کې مهم نقش لري. دی غواړي د هېواد راتلونکي نسلونه تحلیلي فکر ولري او هر څه ته په انتقادي نظر وګوري. همدې هدف ته د رسېدو له پاره ماشومانو ته کیسې لیکي.

آثار:

۱ .دوزخ په انسان کې، د لنډو کیسو ټولګه

۲ .د ... فلسفه، د لنډو کیسو ټولګه

۳ .مور او لېوه، د لنډو کیسو ټولګه (ناچاپه)

۴ .ځانمرګی، ناول (دا ناول اردو ته هم ژباړل شوی دی)

۵ .د ولسمشر فرمان، ناول

٦ .څوروونکی، ناول

۷ .دوزخ په جنت کې، ناول (ناچاپ)

۸ .جنګي سپی، د ماشومانو لپاره د کیسو ټولګه

۹ .یوه لمن کیسې، د ماشومانو لپاره د کیسو ټولګه

۱۰ .یو ماشوم، یوه نړۍ (د اناهیتا روهي، نعیمې غني او محب الله زغم د مقالو ګډه ټولګه)

۱۱ .څیرک الوځي، د ماشومانو لپاره کیسه

۱۲ .کلمه های جادویی، د ماشومانو لپاره کیسه (دا کتاب له پښتو ترجمې سره یې د ماشومانو د ملاتړ نړۍوالې موسسې چاپ کړی دی)

۱۳ .جمیل او ښاپیرۍ، د ماشومانو لپاره کیسه (دا کتاب له دري ترجمې سره یې د ماشومانو د ملاتړ نړۍوالې موسسې چاپ کړی دی)

۱۴ .کبۍ او مونوک، د ماشومانو لپاره ناول

۱۵ .مښود، پر ژبې او ادبیاتو د مقالو ټولګه (ناچاپ)
۱٦ .د ولیو منځ، پر ټولنیزو مسایلو د مقالو ټولګه
۱۷ .پرونۍ ټوکه اوسنۍ رښتیا، د سیاسي مقالو ټولګه (ناچاپ)
۱۸ .د ادبیاتو ښار (د امریکا یونلیک)
۱۹ .جادویي سفرونه، د ماشومانو لپاره ناول، په پښتو او فارسي ژبو کې
۲۰ .د لیکوالۍ عملي لارښود (ناچاپ)

ژباړې
۱ .د حقارت غوټه (د ادلر ارواپوهنه)، د ډاکتر محمود منصور تألیف
۲ .د داخله ناروغیو تشخیص او درملنه (د ډاکتر احمد زلال رنځورمل او ډاکتر احمد مجیب احمدي او محب الله زغم ګډه ژباړه)
۳ .غوباړی The Gadfly ناول، د اتل لیلیان وینیچ اثر
۴ .د کرکې او کینې دیانت، پر دیني مسایلو د استاد محمد محق د مقالو ټولګه
۵ .سترګې به پرانیزو، پر دیني مسایلو د استاد محمد محق د مقالو ټولګه (دا ژباړه یې په مستعار نامه چاپ کړې ده)
٦ .والیل اذا عسعس، پر دیني مسایلو د استاد محمد محق د مقالو ټولګه
۷ .د فروید ارواپوهنه، د کالوین اس. هال لیکنه

**استاد محمد شریف حیدر:**

استاد محمد شریف حیدر د سخی محمد زوی د نور خان لمسی په کال ۱۹۸۸ کال د خوست ولایت په للمی کوټکي په یوه متدینه کورنی کې زیږیدلی دی.
د ۴ کالو په عمر یې د کورنی سره امارت متحد عرب ته ولاړ .د لومړی ټولګی څخه تر یوولسم ټولګي پورې یې زده کړې د العین په یوه نړیواله لیسه کې سرته رسولي دي. نوموړی په دریو خارجي ژبو انګلیسی ،عربي، هندی، اردو حاکمیت لري. د یو څه مشکلاتو په اساس وروسته خپل ګران هیواد افغانستان ته راغی پس له ۱۵ کالو او دوولس صنف ته یې په دره ګي عالي لیسه کې داوم ورکړ. په ۱۳۸٦ کې د لیسې څخه فارغ او وروسته یې د شیخ زاید پوهنتون ته په لوړو نمرو کامیاب شو اود خپلې خوښې پوهنځی کمپیوټر ساینس ته بریالی شو .په ۱۳۹۲ کال کې د دپوهنځی نه په لوړو نمرو فارغ په ۱۳۹۳ کال کې د کمپیوټر ساینس پوهنځی کې د استاد په صفت مقرر شو.
په ۱۳۹٦ کال د تایلینډ هیواد د اسیا نړیوال پوهنتون ته د ماسترۍ پروګرام ته بریالی شو د نوموړی پوهنتون څخه یې ماسترۍ ترلاسه کړه هیواد ته راستون شو چې اوس مهال شیح زاید پوهنتون اړوند کمپیوټر ساینس پوهنځی کې خپلی مقدسه دندی ته دوام ورکوي.

**ډاکتر سیدباز تڼیوال**

سیدباز تڼیوال چې په سیمه کې د سیدورکي په نوم سره مشهور دی په ۱۳۳٦ هجری شمسي کال کې زیږیدلی دی او د طب مشهور ډاکټر دی.

**ارکان حرب جنرال رسول بادشاه تڼی**

د مرحوم الحاج سلطان شاه ځوی اودشیخ الحدیث مولای محمدافضل لمسی په ۱۳۱۸ لمریز کال کی د خوست ولایت د تڼیو ولسوالی د للمی کوټکی (مرحوم الحاج پیربادشاه کلي) په روشنفکره او علمي کورنی کې زیږیدلی.

**الحاج ديپلوم انجنر یارمجان تڼی**

د مرحوم الحاج میرخجان تڼی زوی په ۱۳۳۲ هجری شمسی کال د خوست ولایت د تڼیو ولسوالی د سورګوت په کلی کی دغه نړی ته سترګی پرانیستی.

**شهنواز جانباز**

په 1328 کال د تڼیو دروښان خیلو په کلی کی په یوه علم دوسته کورنی کی زیږیدلی دی په 1336 کال کی درحمن بابا دلیسی په لومړی ټولګی شامل او د همدې لیسې د دولسم ټولګي څخه فارغ شو 1349 کال کې د کابل پوهنتون د ادبیاتو پوهنځی د ژورنالیزم په څانګه کې زده کړی پیل کړې کله چی د ژورنالیزم څخه فارغ شو یو کال عسکري د مکلفیت دوره د خوست ولایت د توپچي په کنډک کې تر سره کړه 1354کال کی لوړ ماموریت د کابل ښاروالی نشراتی اورګان پامیر جریده کی د خبریال په پیل کړ وروسته بیا دنوموړی جریدې مرستیال شو.

**سپین تڼی**

سپین تڼی د ګل محمدالدین زوی او د عین الدین لمسی، په ۱۳۴۲ لمریز(۱۹٦۳میلادي) کال کې د خوست ولایت د تڼیو په ولسوالۍ کې زیږدلی او خپلې زده کړې یې په ۱۳٦۰ کال په خوشحال خان عالي لیسه کې پای ته ورسوله. د کانکور په ازموینه کې د کابل پولېتخنیک انستیتوت ته بریالی، هلته یې یو کال د جیولوژي او معدن پوهنځی ولوست. په ۱۳٦۲کال کې د لوړو زده کړو لپاره پخواني شوروي اتحاد ته ولیږل شو. په ۱۳٦۸ کال کې یې د مسکو د مخابراتي او راډیویي انجینرۍ انستیتوت پای ته ورساوه. وروسته یې درې کاله د مسکو د دولتي پوهنتون د ژورنالیزم په برخه کې نورې زده کړې وکړې اوس د بي بي سي نړیوالې رادیو یو بلبل غږی خبریال دی.

**الحاج انجنیر اصیل جان تنی**

د مرحوم حاجي میرخجان تني زوی په 1334 هجري لمریز کال کې د خوست ولایت د تڼیو ولسوالۍ په سره کوټ کې زیږیدلی وه.

**استـاد قـدرت الله ځواک**

د محمد علي زوی او د پیر اباز لمسی په ۱۹۸۳ کال کې د خوست ولایت په مرکز کې یو دیندار او عزتمنده کورنۍ کې زیږیدلی دی، لومړنۍ زده کړې یې د کابل ولایت د تنیکوټ په عالي لیسه کې پیل کړې، د متوسطه زده کړو دوره یې د خوست ولایت تڼیو ولسوالي د دره‌ګي په عالي لیسه کې پای ته ورسولې او په ۲۰۰۳ کال کې د کابل ولایت د عبدالهادي داوي عالي لیسې څخه اعلي درجه فارغ شوی دی.
په ۲۰۰۴ کال کې د کانکور د ازموینې له لارې د کابل پولیتخنیک پوهنتون د ساختماني پوهنځی د مهندسي څانګې ته بریالی شو. ښاغلی استاد په ۲۰۰۹ کال کې له نوموړي پوهنځي دیادی څانګې څخه اعلي درجه فارغ شو.
په ۲۰۱۰ کې د شیخ زاید پوهنتون د انجینري پوهنځۍ کې د استاد په حیث مقرر شو. د استادۍ تر څنګ یې په مختلفو رغنیزو پروژو کې هم کار کړی دی. څلور کاله یې شیخ زاید پوهنتون کې استادۍ پاکه دنده ترسره کړه په ترڅنګ یې په خوست کې د غوت خصوصي پوهنتون کې استاد هم وه . په ۲۰۱۳ کال کې د جاپان هیواد د کوماموټو پوهنتون ته د ماسترۍ پروګرام ته بریالی شو او په ۲۰۱۵ کال کې یې د ماسټري دوره په بریالیتوب سره پای ته ورسوله او په همدي کال په نوموړي پوهنتون کې د دوکتورا د محصل په توګه ومنل شو چې له همدې پوهنتون نه یې ددوکتورا تر لاسه اوس د خوست شیخ زاید پوهنتون استاد دی.

**سرجن ډاکټر صیب محمد کمال تنی**

د الحاج مترګل زوی او د غوټه‌ګل لمسۍ د خوست ولایت د تڼیو ولسوالۍ د دورملکې کلي په یوه غریبه او دینداره کورنۍ کې په کال(۱۹۷۷)کې دغې دنیا ته سترګې غړولي دي.

**پـوهـنـوال سـیـد کـریم شاه نـیـکـمل**

په ۱۳۳۱ هـ ش کال د تـڼـیـو ولسوالۍ د سنکیو د قوم مربوط په یوه روشن فکره کورنۍ کې زیږیدلی، په ۱۳۵۱ لمریز کال کې د خوست غرغښت لیسې څخه فارغ شوی او دوه کاله یې په ننګرهار عالي دارالمعلمین کې تحصیل کړی دی.
د فراغت وروسته یې په غرغښت لیسه کې ۴ کاله د انګلیسي ژبې د ښوونکي په توګه وظیفه اجرا کړي ده .

په ۱۳۵٦ کال کې د پوهنې وزارت له خوا انګلستان ته د لوړو زده کړو لپاره واستول شو او په سکاټلنډ، ادنبورګ ښار کې یې په Moray House College of Education کې د انګلیسي ژبې تحصیلي ډیپلوم تر لاسه کړ. لوړ تحصیلات یې په کابل پوهنتون، لندن او هندوستان کې د ماسټري درجې په کچه سر ته رسولي دي.

## پوهاند ډوکتور محمدعارف ټنیوال

په (01/02/1329 ه ش) (01/05/1950م) کال کې د خوست ولایت په مرکز کې د شمل باستاني په کلي کې په یوه متمدینه کورنۍ کې سترګې نړۍ ته پرانیسته.

## اروښاد استاد حکیم تڼیوال :

اروانباد استاد حکیم تڼیوال په ۱۳۲۵ش ۱۹۴۶م کال کې د خوست ولایت د تڼیو ولسوالۍ اړوند د حصارک په کلي کې زیږیدلی دی. په (۱۳۸۵) ل کال د سنبلې میاشتې په نهمه نیټه یې شهید کړ او په خپل پلرني ټاټوبي کې خاورې ته وسپارل شو.

د یادونې وړ ده چې د تڼیو دا لویه سیمه کې ډېر زیات لا د قدر وړ کادرونه دي خو په دې وجه چې مقاله زیاته اوږدېدله نو ما مناسب ونه ګڼل چې د ټولو هر اړخیزه څېړنه او یادونه وکړم.

هغه څوک چې له ما پاتې شوي وي ، زه ترې بخښنه غواړم.

**زده کړیز بهیر:**

دتڼیو ولسوالي زیات شمېر نجونې او هلکان باسوده دي، چې له جملې یې په تڼیو ولسوالۍ کې ټول ټال (۳۹) بابه ذکور مکاتب ، (۸) یې اناث مکاتب او دوه نور یې د دواړو دي یعنې یو وخت اناث او بل وخت ذکور درس وایي.

د دولتي مکاتبو د ذکور زده کوونکو شمېر یې (۱۳۹۰۳) او د اناثو د مکاتبو د زده کوونکو تعداد یې (۹۰۰۴) دی.

د دولتي مکاتبو تر څنګ (۹) خصوصي مکاتب فعالیت کوي، چې د زده کوونکو شمېر یې (۳۵۴۵) ته رسیږي.

ددې علمي بهیر امرین (۲۵) ذکور ښوونکي یې (۳۷۵) اناث (۲۰) ښوونکي (۹) مامورین (۱۵) معتمدین (٦۰) ملازمین او د سواد اموزي (۱۰) تنه استادان دي.

**رغنيزې چارې:**

په دې تېرو شلو کالونو کې د خوست ولايت د تڼيو ولسوالۍ لپاره په بيا رغونه کې يوه اندازه کارونه شوي، چې  د هغې له جملې څخه يې د تڼيو ولسوالۍ د تېرخېلو کلي د اوبو ذخيروي بند دی چې د PRT په مالي مرسته جوړ شوی او د دې تر څنګ د اطمان ، سينکو چيک ډېمونه چې  د اطمان کلي چيک ډېم کار نا بشپړ پاتې شوی دی.

بل خوا په ځينو سيمو کې ځينې رغنيز کارونه لکه استنادي ديوالونه جوړ شوي دي.

**روغتيايي مرکزونه:**

په دې سيمه کې يوه اندازه صحي کلينيکونه جوړ شوي، چې له دې جملې څخه يې د تڼيو ولسوالي مرکزي کلينيک ، د نريزې ، سورکوټ ، متک ، ورژلې ، حصارک ، پير بادشاه کلي کلينيکونه شامل دي.

**د تڼيو ولسوالي مشهور ځايونه:**

په دې ولسوالي کې ډېر مشور ځايونه شته چې ، خلک يې د سيل او تفريحي  لپاره ميلو ته راځي ، چې نوموړي ځايونه تاريخي ارزښت هم لري .

لکه ادممد زيارت ، مېلان غر، د سورکوټ او د تېرخېلو تاريخې ماڼۍ ، نريزې برري دنګ چنار...

**د دره ګي ډانډې:**

نه به تل دره ګی وي
نه به يې ډنډې ډکې وينه
دره ګي دخوست ولايت د تڼيو ولسوالۍ اړوند دڅلورو لويو قومونو لرغونی کلی دی، چې سلګونه کاله لرغونتوب لري، دلته د تڼيو د څلورو قومونو سېنکيو، درناميو ،خبي خېلو او اريوزيو خلک کډ ژوند کوي. د دره ګي په اړه زياتې لنډۍ ويل شوي دي زموږ مرحوم پلار نقل کوي د دره ګي کلی يو ځل د امير عبدالرحمن خان په وخت کې سخت په توپونو وويشتل شو علت يې دا ښايه ،چې هغه وخت ډېر غربت وه حکومت او چارواکو پر مالونو او فصلونو ماليه غوښته خلکو نه ورکوله، چې له امله يې امير عبدالرحمن خان د کلي په ختيځ کې ورته توپونه ولګول څو ورځې يې دغه کلی په توپونو وويشته زموږ پلار زياتوي د توپونو خولې ته د اريوزيو او خبي خېلو د خېلونو کورونه مخامخ وو زيات د دې خېلونو ځوانان، بوډاګان۰۰۰ ووژل شول،چې دوخت لنډۍ ويوونکو ورته دغه لنډۍ وويله:
تڼي د قوم، د قومه مړه دي
په اريوزيو کې خانان لوېدلي دينه

دره ګي کلی په څلورديواليو خوندي وه ځلورو خواوو ته يې ځلور دروازې وې، چې خلک به د هغې دروازې له لارې کلي ته ننوتل، دلته قومي تړون و هېڅوا ددې تړون څخه سر غړونه نه شواى کولاى٠

يوه بله لنډۍ:


دره ګي په لر پلو رنګيږي

په بر پلو يې سرندې وهي ډولونه

د دره ګي کلي په جنوب کې لوی غر پروت دی، چې په دې کلي پورې اړوند دی پخوا دا غر په ځنګلونو پټ و د قومي تړون له مخې چا شنه ونه نشواى وهلی په دې ځنګل کې ډول، ډول ونې شتون درلوده، چې هر ډول ځنګلي حېواناتو او مرغانو په کې ژوند کاوه دې غره يو ډول ونه، چې ګورګورې ورته ويل کيږي زياتې درلودې، چې دا مېوه داره ونه د اوړي په موسم کې پخيږي هېڅوا نه شو کولاى، چې په خپل سر ورغلی وای او دغه مېوه يې خوړلې او يا کور ته راوړلی وای، کله به، چې په مکمل ډول پخې شوې نو دکلي مشرانو به د وخت ډولچي ته وويل ډول ووهه، چې کليوال خبر شي ګورګورې پخي دي بس ډول به ووهل شو خلک به خبر شول هر څوک به تلل ترڅو ګورګورې وخوري او کور ته يې راوړي، هغه ښايسته ځنګل اوس په بشپړه توګه له منځه لاړ دی قومي تړون لکه په نورو ولايتونو کې، چې زيانمن شوی دلته هم همدا حال دی!!!

د دره ګي ډنډې:

ياد کلی دوې لوې ډنډې لري، چې شايد سل کاله او ان له دې پخوا کندل شوې وي اوس هم له اوبو ډکې وي ،چې يوه دانسانانو د ګټې اخيستو لپاره ده او بله دحېواناتو لپاره د دره ګي کلي په لوېديځ کې زرګونه جريبه ځمکه ده، چې کله باران پرې وشي اوبه يې د وخت خلکو داسې برابرې کړې وې، چې ددې ډنډې په ډکولو کې ترې ګټه اخيستل کېده، په دغو ډنډو کې هر وخت اوبه وي زما مرحوم پلار نقل کا ويل يې دغه ډنډې ځکه نه وچيږي دهغه وخت اوو (۷) پيرانو رښتينو ملنګانو ورته دغاُ کړې ده ،زما نه ياديږي، چې دغه ډنډې دې وچې شوي وي٠(سيدموسی مجروح)



د دره‌ګي تاريخي ډانډې

# پای

**لیکنه او راټولونه: محمد کبیر ماښام**